PASHTO

# AMES Australia

# کرايي ځاى اوسيدو په اړوند معلوماتي مجموعه

## د AMES او ړ د محا له استوګنه



www.ames.net.au

13AMES

# د كرايي ځای اوسيدو په اړوند معلوماتي مجموعه

## محتوی

**سريځه**
ستاسو كرايي اوسيدنه ، د زيادتی مودی استوګنه

**دكرايی سيستم – ۲ پاڼه**
تضمين
د كرايی پيشكي تحويلی
د كرايی دوركولو لاری
د تحويلی محاسبه د يوی مياشتي كرايی لپاره
دكرايی په وخت تحويلی
د كوريا ځای نه وتل
د قرار داد نقضول
د كورياځای خاوند/ ايجنټ يا نماينده جايداد ته ننوتل او محرميَت

**حفظ اومراقبت اودجايداد پاملرنه-** ۵ پاڼه
دچمن ربيل، دباغوانی پاملرنه او دكوردننی پاكاری
دخزلو اوچتليو سيستم
رغونه يا ترميم كاری

**عامه خدمتونه اوبودجی سنجول** – ۷ پاڼه
دبِلو تحويلی (بريښنا، ګاز او اوبه)
دورپه ور پلورونكي خلک
د انرژی اوابو سپما
بودجه يا پيسو سنجش

**بيړي يا عاجل حالات** – ۹ پاڼه
000 او بيړني خدمتونه
د دوُد خبرولوآله- دهغه تفتيش اوحفظ ومراقبت
دګاز،اوبو اوبريښنا دمرستی غوښتو دپاره ټيلفون كول

**منابع يا سرچيني** – ۱۱ پاڼه

دغه مجموعه دكرايی اوسيدو په هكله ټول معلومات نه لري. كه تاسو دكرايي ځای اوسيدني په اړوند څه پوښتنی لری د AMES دمدير يا موضوع مدير(Case Manager) سره يا دهغه منابعو يا سرچينو نه چې ددی معلوماتي مجموعي په پای كی فهرست شويدي خبری وكړی.

د AMES دفترد بی اعتنايی يا بل ډول چې فكروشي هيڅ ډول مسوؤليت په غاړه نه اخلي ، هرهغه نفر چې رنځ وړي يا دخرابی له امله څه دلاسه وركوي ددی مجموعی په معلوماتو تكيه يا اساس باندی دعوی او د هغه تائيد يا ارتباط وركول نشي كولای.



AMES Australia

## سریځه

وروسته ددی چې تاسی د زیاتی مودی داوسیدو اختیار ترلاسه کړ، دلته په آسترالیا کی یو څه څیزونه شته چې تاسی یی د کرایه نیولوپه وخت او کرایي ځای په هکله په پام کی ونیسئ.

د کرایي سیستم، د یوه کرایي ځای یا ملکَیّت حفظ اومراقبت، د عامه خدمتو(اوبه ، گاز اوبریښنا) محصول تحویلئ او دبیرنی یا عاجل حالاتو سره چلن کیدای لړ څه پیچلي و اوسي. ددی معلوماتو مجموعه ستاسو دپاره ده که دکرایه دارئ په هکله پوښتنی ولرئ د هغه په لوستلو ځواب ترلاسه کړئ.

که څه هم، دا معلومات مکمل اوهراړخیز ندي. که داسی حالت سره مخامخ شئ چې ستاسی ستونځه ددی مجموعی سندو کی شامل نوي نو دمعلوماتو پیدا کیدو په هکله ددی مجموعي په آخري پاڼه کی دنورو سرچینو فهرست موجود دی چې هغه کولای شي تاسو سره مرسته وکړي هغه وګورئ.

هیله ده چې ددی مجموعی معلومات به د پیل یوموأخذ په توګه کوم وخت چې په آسترالیا کی د کرایی اوسیدو دپاره په کرایي ځای /کورکی ژوند کوئ ښه ګټه ورمعلومات وګڼل شي.

## کرایی سیستم – څرنګه ټول کارونه کوي

د تضمین، کرایي ، بیا جوړونی او د کرایي ځای نه بیرته وتنی په اړوند معلومات.

### تضمین – HSS مراجعین

تضمین د پیسو هغه اندازه ده چې د قرارداد په لمړي پیل کی ورکول کیږي. ددی پیسونه که د جادایداد نه کوم چې یوځای وران یا خراب شي یا کرایه ورنکړه شي اخیستل کیږي.

لمړنی تضمین د یوی قرضی په توګه د بشري خدمتو د وزارت د خوا ورکول کیږي او باید چې بیرته د تضمین پیسی پوره اندازه د بشري خدمتو وزارت ته ورکړل شي.

د کرایی قرارداد په پای کی د کور، ځای خاوند/ ایجنټ به د بشري خدماتو د وزارت ته د تضمین پیسو بیرته ورکولو دپاره درخواست وشي. که ستاسو د کرایي کورخاوند یو اندازه پیسی د ځای دورانیدو یا چې کرایه نده ورکړه شوی ستني کړي، نو تاسو نه به غوښتنل وشي چې هغه اندازه پیسی وزارت ته تحویل کړئ.

دمثال په توګه ستاسو د تضمین اندازه ۱۱۰۰ ډالره وه. د کرایی د قرارداد په پای کی دکورخاوند ( په دیوال کی د سوریو، دفرش د خط یا شلیدو، اوپاک کاری لګښت) او یا د یوی اونی کرایی سره چې نده تحویله شوي ۶۰۰ ډالره ستنی کړي. نوتاسو باید ۶۰۰ ډالره د بشري خدمتو وزارت د قرض پیسو دیوی برخی په توګه تحویل کړئ.

که د کور، خاوند د تضمین پیسی نوي ستني کړی، نو اړتیا نه لرئ چې د بشري خدمتو وزارت څه بیرته تحویل کړئ.

**دکرایی پیشکي تحویلئ**

په آسترالیا کی د کرایي ځای ، کورکرایه باید یوه میاشت دمخکی نه تحویل شي. دا هغه وخت پیل کیږي چې تاسو د تضمین پیسی تحویله وئ د کرایی لمړئ میاشتی کرایه هم باید ورکړئ. تاسو به د کرایی پیسی په هغه ورځ کی چې ستاسو او دځای ، کورخاوند یا ایجنټ ترمنځ پری موافقه شویده تحویل کړئ.

**د کرایی پیسو د تحویلی لاره**

تاسو او دکورخاوند یا ایجنټ به په یوه ورځ چې د کور ، ځای د کرایی پیسی او دهغه د تحویلی په طریقه یا لاری باندی خبری اوموافقه وکړی. د کرایی پیسی کیدای شي په خپله، د ډایرکټ ډېټ یا مستقیم اعتبار چې دحساب نه مواخیستل کیږي یا د کریډټ کارټ یا چِک د لاری نه تحویل شي.

**د تحویلی محاسبه د یوی میاشتي کرایی لپاره**

کرایی پیسی معمولاً د هری میاشتی دپاره دي.

په یاد مودي کوم وخت چې مو کرایي ځای ، کور لټوه تاسو ته یی د یوی اونئ کرایی اندازه وویله؟ چې د یوی میاشتی کرایه به څومره شي ، دغه فارمول تعقیب کړئ

( اونئ کرایه ( ډالر **X** ۵۲ (هفتو) ÷ ( میاشتو) = میاشتنئ کرایه

دمثال په توګه ستاسو داونئ کرایه ۲۸۰ ډالره ده

۲۸۰ ډالره X ۵۲ ÷ ۱۲ = ۳۳.۱۲۱۳ ډالره

ستاسو میاشتنئ کرایه به **۳۳ .۱۲۱۳** ډالره وي

**د کرایی په وخت تحویلئ – دا ولی اهمیت لري!**

د کرایی پیسو تحویلي په خپل وخت کی داهمیت وړده. که تاسو ونه شئ کولای چې په ټاکلی ورځ کی هغه تحویل کړئ، د کور، ځای دخاوند یا ایجنټ سره هرڅه ژر په تماس کی شئ او ورته ووایئ چې تاسو نه شئ کولای کرایه تحویله کړئ.

که تاسو کرایه په خپل وخت کی تحویل نه کړئ، ایجنټ یا د کور، ځای خاوند به تاسو په یاد ولري اویا به د بد معامله کرایی اوسیدونکي په توګه وپیژني. دا به شاید ستاسو راتلونکو کرایي استوګن درخواستو باندی اغیزه وکړي.

که دکرایی تحویلئ ناوخته وي، ایجنټ کولای شي تاسونه د ناوخته تحویلی په خاطردمثال په توګه ۲۰ ډالره

جریمه وغواړي. که ناوخته شوی کرایه مو په ۱۴ ورځودننه کی تحویل نه کړه، دکور، ځای خاوند شاید ستاسی د وتلو یا ځای خالي کیدو اقدامات پیل کړي.



AMES Australia

**د کور، ځای نه وتل**

غواړئ چې د کرايي ځای ، کور نه وه اوځی؟

**داهمیت وړ:** که تاسو وغواړئ چې د کرايي ځای ، کورنه د قرارداد دختمیدو نیټی نه مخکی ووځی، ځني منفي نتائيج به ولري! د ' قرارداد د نقض' برخه په لاندينو معلوماتو کی ولولی.

که د ځای ، کورنه وتنه ستاسود ټاکل شوي قرارداد د وخت پای ته نژدی وي، تاسو باید د ځای، کورخاوند یا ایجنټ ته ۲۸ورځی لیکلی خبرتیا ورکړئ چې په هغه کی ستاسودوتلوپلان شوي وتولو نیټې ذکرشوی اوسي.

کوم وخت چې اوځی باید دځای ، کورټول عامه خدمتونه؛ اوبه، ګاز اوبریښنا، ټیلفون، انټرنټ او نورځیزونه بند یا قطع کړئ.

زیاروباسی چې د وتلو نه وروسته هیڅ یوڅیز یا شی شاته پری نږدی. باید د ایجنټ سره په ځای ، کورکی د خپلو ځانګړو اثراتو په اړوند په تماس کی اوسی او هغه ټول پاک کړئ چې دزیات لګښت دورکولونه وژغورل شی که نه دکور، ځای خاوند به هغه لګښت چې دوی به یی د هغه په پاکولو/یا ساتنه کی وکړاي درنه وغواړي. نورزیات معلومات کیدای شي چې د **' *هغه شیان چې شاته پای دي*'** د مراجعینوچارو په ویب سایت کی پیدا کړئ.

**په يادولری:** دځای یا کورکیلیګانی د وتلو په ورځ بیرته ورکړئ. که تاسی لا اوس هم کیلي ولری، کرایه به دربانذی چارج شي یا وغوښتل شي.

ټولو مناسب یا وړخدمتو ته د خپل نوی پتی یا آدرس ویل یا ورکولو نه ځان ډاډمن کړئ. داد VicRoads (د موټرچلولو لایسنساوجوازدفتر) ، Medicare (دولتي بیمه)، بانک، DIAC (دمهاجرینو اوتابعیت وزارت)، ښوونځیو، اوعامه خدمتو(اوبو،ګاز اوبریښنا) برابرونکو په ګډون دي.

**دقرارداد نقضول**

په آسترالیا کی یوشمیر لګښتونه د کور، ځای د وتلوسره د قرارداد د معینی نیټی د پای نه مخکی تړلي دي.

تاسوبه کرایه ترهغه وخته پوری ورکوئ ترڅویونوی کرایه نشین ځای ته ننوځي یا ترهغه وخته چې ستاسی قرارداد موده پوره شي( هریوچې دمخه پیش شو).
تاسوبه همدارنګه د ایجنټ داعلانو لګښتونه اواړوند فیسونه( معمولاً بل ۱ یا ۲ اونیو کرایه) ورکړئ.

**په يادولری:** دکرايي ځای ، کورنه د قرارداد دپوره کیدو نه مخکی وتنه غیرددی چې مالي لګښتونه لري، همدارنګه ستاسو دراتلونکو کرايي کور، ځای په لټولو توان باندی اغیزه اچوي. کوم وخت چې راتلونکی کور، ځای خاوند د مخکینی کور، ځای خاوند یا ایجنټ سره تماس ونیسي اوواروي چې تاسو قرارداد نقض یا مات کړیدی ، احتمال لري چې دوی به د نوي کرايي ځای ، کورد کرایه ورکولوکی موافقه ونکړي.

که لا هم اړتیا لرئ چې د کرايي کور، ځای نه مخکی لدینه چې قراراد پای ته ورسیږي ووځی، تاسو به قبلوئ چې ترڅو دالاندی شامل لګښتونه تحویل کړئ:

په لیکلی توګه هرڅه چې کولای شې او امکان ولري دخپل وتو دنیت نیټه ووایې او د کورخاوند یا ایجنټ نه وغواړئ چې نوی کرایه نشین پیدا کړي. د لیک یو کاپی دځانه سره وساتی.

د هغی ورځنی نه مو چې کورخوشی کړنودکرایی ورکړه بنده کړئ. دکورخاوند بایده ده چې معقول قدمونه د نوي کرایه نشین پیدا کولو دپاره اوچت کړي. دکورخاوند به پس دهغه تاسوباندی دهغه کرایی تاوان چې کله تاسو کورخوشی کړ او څه وخت چې کور بیرته په کرایه ورکړشو ادعا وکړي.

**دکور، ځای خاوند/ ایجنټ جایداد ته ننوتنه او محرمیّت**

دکور، ځای خاوند یا هغه نفرچې دهغه په وکالت عمل کوي( ایجنټ یا معامله کوونکی) شاید یواځی هغه وخت کرایي جایداد ته ننوځي که

- د ننوتو دپاره یو حقوقي قانونی وجہ ولري
- دوی تاسو ته ۲۴ساعته د مخه دخپل نیت لیکلی خبرتیا درکړی وي

حقوقي قانوني دلایلو کی دا هم ګډون لري

- که تاسو دجایداد نه اوځی او هغه نوروخلکو ته ښایي یا جایداد خرڅ شوی یا ارزش یی معلوموي
- که دجایداد خاوند د قانون یا قرارداد لاندی یوه دنده اجرأ کول وغواړي
- دجایداد خاوند یا ایجنټ وغواړي چې ځای تفتیش کړي( یواځی ۳ میاشتی په کور، ځای کی چې د اوسیدنی نه تیرشوی اوسي او یوتفتیش چې په تیرو ۶ میاشتو کی ترسره شوی وه نه اوسي)
- یا تاسو په تیرو ۷ ورځو کی د ننوتو اجازه ورکړي وي.

## حفظ ومراقبت او دجایداد پاملرنه

د کرایه نشین په توګه تاسو دجایدادعمومي حفظ اومراقبت اوپاملرنی دنده یا مسوؤلیت لرئ. دا د چمن دریبلو، دباغوانی پاملرنه( لکه د بیکاره بوټو دمنځه وړل) ده.

همدارنګه تاسو باید دکوردننه پاکی اوستره ګی ساتلونه ډاډ اواطمینان ولرئ.

**دخزلواوچټلی سیستم**

خزلي اوچټلی باید د جایداد په مناسب چټلیو ، خزلو اوبیا استفادی یا جوړولوBins (بیلرو) کی ځای په ځای شي.
دخزلواوچټلی بیلرونه دعمومي استفاده شویوڅیزو دپاره دی په داسی حال کی چې دبیا استفادی اوجوړولو بیلر د بیا جوړلواواستفاده شیانو دپاره دی لکه بوتلونه، قطي، قطعه او کاغذ.

دا بیلرونه باید دسړک په غاړه چې مخ یی سړک ته وي په اونی که یو پلا د تشیدودپاره چې د خزلو اوچټلیو موټریی ترسره کوي کیښودل شي.

تاسو کولای شی د سمیه ایزشورا یا کونسل یا ګاونډیانو نه چې کومه ورځ دخزلواوچټلیو موټرراځي پوښتنه وکړی. دا ورځ باید په اونۍ کی هروخت هماغه ورځ وي.

وروسته ددی چې بیلرونه د خزلو اوچټیلو موټرو کی تش شول، بیلرونه د هغه ځای نه ایسته کړی اوباید بیرته دننه په جایداد کی کیښودل شي.

**رغونه یا ترمیم کاری**

د کور، ځای خاوند غواړي چې دجایداد ښه رغوني یا ترمیم کاریَ نه په هغه موده کی چې تاسو یی په ځای کی اوسیږی ځان ډاډمن کړي.

که دبیړي یا عاجلی رغوني یاترمیم کاریَ ته ضرورت وي، دکور، ځای خاوند یا ایجنټ ته سملاسي خبروکړی.

دبیړی په رغوني یا ترمیم کی شامل

- داوبو خدمت چاودیدلی وي
- دتشناب سیستم بندیدل یا خرابیدل
- د بام یا چت جدي سوری یا لیک
- د ګاز لیک
- د بریښنا خطرناکه عیب
- سیلاب یا دسیلاب جدي خرابی
- د توفان یا اور خرابی
- په پُریو/زینو او لِفت کی جدي خرابی
- د ضروري خدمتو یا اوزارو چې د کور، خاوند له خوا برابرشویدي خرابیَ او کارنه کول وي لکه دتودو اوبو، اوبو، پخلنځي/آشپزخانی، بخاریَ یا تودولوسیستم او دکالو مینځلو ځای یا ماشین
- د ګاز، بریښنا یا اوبوبرابرولوسیستم خرابیَ یا کارنکول
- هرډول خرابیَ یا کارنکول چې ځای غیرمحفوظ یا نا امنه کړی وي
- داوزارو/ یا نصب شوي شیانو په وجه چې د یادوني وړ اوبو بی ځایه بهیدنه وي

د ټیلفون کولو نیټي او وخت چې تاسو هڅه کړی د کور، ځای خاوند اوایجنټ سره چې په تماس کی شوي یاست ثبت یا ریکارډ وساتیَ. دکورخاوند یا ایجنټ باید تاسو خبرکړي چې هغویَ سملاسي هغه رغوي یا ترمیموي.

که دکورخاوند یا ایجنټ په وخت ځواب درنکړي( په یوه ورځ کی)، تاسوکولای شیَ هغه خرابیَ په خپله جوړه کړیَ که لګښت یی تر ۱۸۰۰ ډالروهم وي. رسیدونه او د کرایي ځایو اوسیدونکو اتحادیی سره تماس ونیسیَ. که تاسو درغوني یا ترمیم پیسي نشی برابرولی یا هغه د ۱۸۰۰ ډالرو نه زیاتیږي او دکور، ځای خاوند یا ایجنټ دهغه د رغونه نه مني، تاسو کولای شیَ دVictoria Civil and Administrative Tribunal ( ویکتوریا مدنی او اداری دیوان) ته غوښتن لیک ورکړیَ ترڅو خاوندانو ته امروکړي چې په چټکی سره د خرابو شیانو رغونه یا ترمیم کاریَ وکړي. دیوان باید په ۲ کاري یا رسمي ورځو کی ستاسی د رغوني یا ترمیم غوښتن لیک واوري.

هرى بیړې رغونه یا ترمیم کارئ چې پورته فهرست شوي نوي ددی معنی لري چې *هغه عاجل یا بیړې رغونه نده*. که ځای یا جایداد غیرضروري او غیرعاجل رغونې ته اړوي، یو خبرداری (لیکلی) د جایداد خاوند ته ولیږی ترڅو هغه د رغونې یا ترمیم په ۱۴ ورځو کی دجوړونی په لست کی ونیسي.

که ستاسو یا ستاسو د یوه میلمه دخوا جایداد خراب شي، نو درغونې لګښت به تاسو په خپله ورکړی. که باورلری چې تاسی خپله د رغونکي یا جوړونکي سره خبری کولای شی چې ترمیم کارئ وکړي نودا کاربه وکړي. که نه، د معاملاتو درهنما دایجنټ خبرکړی چې دا ستونځه یا مشکل حل کړي اوبِل یا حساب تاسو ته درولیږي.

هیڅکله دکرایی پیسو یا د رغونې یا ترمیم دپاره مه ستنوئ. که د کرایی د تحویلئ مو ۱۴ ورځې وځنډیږي دکور، ځای خاوند تاسو ته د کوریا ځای خوشی کیدو ۱۴ ورځی وخت درکوي او د خالي کیدوکارروایې پیل وي.

## عامه خدمتونه اوبودجی سنجول

### دبِل یا صورت حساب تحویلئ( بریښنا، ګاز اواوبه)

که ستاسی داوسیدځای ځانته علیحده عامه خدمتو میټرونه لري، نو ددی خدمتو د مصرف پیسی به په خپله تحویل کړئ.

وروسته ددی چې دعامه خدمتو اوزارچلان شول، تاسی به په پُسته کی بِلونه ترلاسه کړئ. په لاندی برخه کی دبودجی (عایدپیسی) اوبِلو تحویلئ سنجش دپاره مشوره شته چې څنګه خپل مصرف یا لګښت کم کړی . ځینی لاری شته چې تاسی کولای شی خپل بِلونه تحویل کړئ. بِل په خپل ذات کی لګښت، د تحویلئ نیټه ممکن دي فهرست کړي. آسانه لاره ډایرکټ ډبټ یا مستقیمه توګي تحویلي ده چې ستاسی دبانک حساب نه یی وضع کوي. بله لاره یی پُسته یا ډاک خانی ته دنقدوپیسو سره ورتګ دی چې تحویل یی کړئ.

که داوسیدوکور، ځای دعامه خدمتوعلیحده میټر ونلري (دمثال په توګه ټول بلاک یا فلټ/اپارتمنټونه داوبو یو میټرولري)، بیا د جایداد خاوند مکلف دی چې هغه تحویل کړي. هغوئ شاید تاسو سره یوی موافقی ته ورسیږي چې یو برخه تاسو ورکړئ. دا په هغه صورت کی ده چې تاسو په شریکه استوګن ځای کی وه اوسیږئ. کیدای شی چې دعامه خدمتو دلګښت محصول دکرایی په اندازه کی لا دمخه شامل شوی اوسي.

که شریکه استوګنه وي نوتاسو اړتیا لرئ چې بِلونه د جایداد دټولو اوسیدونکي په خپل منځ کی تقسیم کړئ. ددی کاردباره لازمه ده چې تاسو په ځپل منځ کی یوډول موافقی ته سره ورسیږئ چې څنګه د هریو نه پیسی غونډی شي اوڅوک بِلونه د ټولو شویو پیسو نه تحویل کړي.

### دوریه ورپلورونکي خلک

پلورنکي خلک شاید ستاسی ورتیک تک کړي اود عامه خدمتو، کیبل ټیلویژن لکه د فاکس ټیل یا نوروخدمتو په هکله خبری وکړي. ځینی وختونه هغوئ به د عامه خدمتو دبرابرونکو/کمپنیو( بریښنا اوګاز) دبدلو په اړوند خبری وکړي. ترهغه پوری چې تاسو پوره پوه شوي ونه اوسی څه شی مه دستخطوئ. پلرونکي خلک کیدای شي بیلی بیلی طریقی

پکاروا‌چوي چې تاسی قانع کړي چې خپل عامه خدمتونه بدل کړی. که ځان مو دهغوی سره راحت نه احساسوه یا دهغوی په خبرو نه پوهیدی، کولای شی ووایی چې زه علاقه نه لرم او دهغوی نه وغواړی چې لاړشي.

**د انرژۍ او اوبو سپما**

په آسترالیا کی دانرژي اواوبه مصرف یا لګښت کیدای شي ډیرګران وي.

ددی دپاره چې د عامه خدمتو دبِلو دپاره پیسی سپما کړی ، نوپه یاد ولری چې دابو اوانرژی استعمال کم کړی.

تاسو داکارپه دی توګه کولای شی

- هغه وخت چې داوزارونه ګټه نه اخلی یا په استفاده کی ندي( ټیلویژن او کامپیترونه) هغه مړه کړی
- کوم وخت چې د کوټې یا خونې نه وځی څراغونه مړه کړی
- د ایرکانډیشن او بُخاریګانو استعمال یا ګټه اخیستنه کمه کړی
- لنډ محاله شاوروا‌خلی یا ځان پریمنځنی

په انټرنټ کی دانرژۍ او ابو دسپما په اړوند زیاتی اشاری چې څنګه ترلاسه کیدای شي شته دي.

**بودجه یا پیسوسنجول**

ددی دپاره چې خپل لګښتونه تنظیمولای وشی نو مهمه ده چې بودجه ولری ( دعاید اولګښت سنجش).

که تاسود بودجی ښه سنجش ولری نود لګښتو د محصول ( لکه د کرایی، عامه خدتونه ، خوراک اوبِلو) د نا وخت تحویلۍ مشکل نه مخنیوی کولای شی.

ستاسی لګښتو نه به په جلا جلا و ختونوکی را شي . مهمه ده چې دمخه پلان ولری او ځان دا ډمن کړی چې تاسی په کافي اندازه پیسی ولری کو می چې تاسو را ځي.

د عامه خدمتو بِلونه معمولاً په دوه یا دری میاشتو کی یوځل راځي. د کورکرایه، دټیلفون او انټرنټ محصول معمولاً په هره میاشت کی تحویلیږ‌ي. خوراکي ځیزونه اوتګ راتګ لګښتونه به په هراونی یا چې کوم وخت یی زیات ضرورت وي تحویل شي.

که تاسو د Centrelink نه دپیسو مرسته ترلاسه کوی کولای شی Centrepay (دسنترلنک دلاری مستقیمه تحویلۍ) استعمال کړی. ددی پرځای چې دعامه خدمتو زیاته اندازه پیسوبِلونه په هرودوه دری میاشتو کی تحویل کړی ، پیسی به ستاسو دCentrelink د پیسو مرستی نه د بِلو د تحویلۍ دپاره واخیستل شي.

که تاسود Centrepay نه ګټه وانخلی ، نوباید په کافي اندازه پیسی سپما کړی چې وکولای شی دکرایی اوبِلو پیسی تحویل کړی. دا کیدای شي د ډاریکټ ډیبټ دلاری ستاسی دبانک حساب نه په مستقیمه توګه دبِلو دپاره د پیسواخیستنه وي. د زیاتو معلوماتو دپاره د' دخپلو بِلو دپاره تحویلۍ ' پورتنی برخه ولولی.

**په یادولری:** هرهغه څوک چې په کرایه اوبِلو کی شریک وي باید په بودجه کی دخیل شي. یوځای کښینی او دپیسوسنجش یا بودجی د AMES دمهارتو یا دهغومنابعونه چې یوه بودجه اوسپما پیل شي ګټه واخلی ترڅو ستاسو دکرایی اوبِلو پیسی په وخت کی پرته د کومی پریشانتیا نه تحویل شي.

## بیړی یا عاجل حالات- معلومات دهغه وخت دپاره چې یو خراب پیښ شي

**000 اوبیړی یا عاجل خدمتونه**

که دبیړی یو حالت پیش شي نود 000 شمیری ته زنګ ووهی. د بیړی شمیری خدمتونه به ووایي' عاجل-پولیس ، اوروژني یا امبولانس؟' او دهغه نه پس تاسو باید دکوم خدمت چې لازم وي ځواب ورکړی اوخپل ځای یا پته هم ووایی.

000 شمیری ته یواځی دبیړی یا عاجل حالت کی زنګ ووهی. چې دابه یوه پیښه وي چې فقط پیښه شویده یا پیښ شوی اوجاري ده( لکه داورلګیدنه، یو جرم پیش شوی یا یو خراب اوجدی روغتیایی ستونځه ده)، که د ژوند یا جرح اوزخم تهدیدؤنکی وي یا دا پیښه کیدای شي د اشخاصو یا جایداد خطری رامنځ ته کړي.

که دبیړی یا عاجل حالت نه وي000 شمیری ته زنګ مه وهی. که په بدل کی عمومي پوښتنی لری د سیمي پولیس ستیشن یا چونی یا دروغتون شمیره ولټوی یا یی پیدا کړی.

**ددوُد دخبرولو آله- امتحان او حفظ اومراقبت**

دقانون تقاضا ده چې دجایداد خاوند باید ددوُد دخبرولوآله ستاسی په ځای ، کور کی نصب کړي.

دا ستاسو دنده ده چې ددوُد دخبرولو آلهِ بیټری بدله کړی. همدارنګه ستاسومکلفیت دی چې دآلهِ دشا اوخوا زنګ، خاوره پاکه او هغه امتحان کړی. تاسو باید بیټری په هر ۱۲ میاشتو کی یوځل بدله کړی؛ معمولاً ښه وخت یی په ټاکلی ورځ ده( هغه وخت چې ساعتونه بدلیږي یا دپیدایښت ورځ).

که بیټری ضعیفه شي نو ددوُد دخبرولوآله یو جګ ږغ بیپ شانتی کوي. معمولاً تاسو د دوُد دخبرولو آلهِ دبیټری دبدلولو مسوؤلیت په غاړه لری مګر د ایجنټ سره یی چک کړی که په دی اړوند چې څوک ددوُد دخبرولوآلو بدلولو دنده لري پوښتنه وکړی.

**په یاد ولری:** تاسی نه باید چې آله بنده ،یا ایسته کړی یا په کی په هرډول چې وي لاس ووهی!

که دبیړی یا عاجل پیښنونه په غیروي لکه د ډوډی پخلول اود دوُد آله په آوازورکولو شي، هڅه وکړی چې جاري هوا وچلیږي ترڅو دود یا بُخاروونځي او ددوُد آله په آواز ورکولو په غیرعاجل صورت کی پیل ونکړي.



AMES Australia

**د ګاز،اوبو اوبریښنا په اړوند دمرستی غوښتلو چټکه زنګ وهنه**

که د ګاز،اوبو اوبریښنا په اړوند دمرستی غوښتلو چټکه اړتیا لرئ( دمثال په توګه ، که ددست شوي لاندی داوبو نل وچوي . یا د ګازبوی موترسرموکیږي یا بریښنا دکاره ولیږي) تاسو **سملاسي** دکور، ځای خاوند یا ایجنټ سره په تماس کی شئ. هغوئ به دبیړی جوړولویا ترمیم بنداوبست وکړي.

که تاسود کورخاوند یا ایجنټ سره تماس نیولای ونشو، کولای شئ دترمیم کار سره په تماس کی شی چي دامشکل جوړ کړي، که مصرف یا لګښت د ۱۸۰۰ ډالرو نه لږوي. رسیدونه وساتی او دکور، ځای خاوند یا ایجنټ به دترمیم کولو لګښت بیرته تاسو ته درکړي. که تاسو دا لګښت برابرولای نشو اولګښت د ۱۸۰۰ ډالرونه زیات وه، د VCAT سره په تماس کی شئ کوم چي هغه اطمینان ترلاسه کړی چي د کورخاوند یی جوړکړي. په یادولرئ هڅه وکړئ دکور، ځای خاوند یا ایجنټ سره په تماس کی شئ کوم چي به دګاز، اوبو اوبریښنا ترمیمی وکړی ځکه چي دا دهغوئ قانوني دنده یا مکلفیت دی.

دا د کور، ځای خاوند یا ایجنټ مکلفیت دی چي عاجل ترمیمولو غمه وخوري، کوم چي د ' حفظ ومراقبت او دجایداد پاملرنه ' په پورتنی برخه کی پری بحث وشو. که تاسو کوم شی خراب کړئ نو په دی صورت کی به دکوریا ځای خاوند تاسو نه وغواړي چي هغه جوړکړئ.



AMES Australia

## سرچینی یا منابع

Tenants Union of Victoria د (ویکتوریا دکرایی اوسیدونکو اتحادیه) – د انټرنټ آن لاین اوټیلفون خدمتونه په بیلو بیلو ژبو کی پیشکش کوي
www.tuv.org.au
9416 2577

Consumer Affairs Victoria د (ویکتوریا دمراجعینو چاری)
www.consumer.vic.gov.au/housing-and-accommodation/renting
1300 55 81 81

Victoria Civil and Administrative Tribunal د( ویکتوریا مدني اواداري دیوان)
www.vcat.vic.gov.au/disputes/residential-tenancies
9628 9822

### نوری سرچینی یا منابع

Money Smart ( هوښیاری پیسی)- دبودجی یا پیسوسنجشول اوسپما
www.moneysmart.gov.au

په انټرنټ کی خوړولیزه سرچیني یا منابع د انرژئ اوابو دسپما په هکله شته دي
Red Energy (سره انرژئ) – دانرژئ سپما
http://www.redenergy.com.au/page.html?saving-energy

Metropolitan Fire Brigade ( دلوی ښار داور وژنی عمله) – د اور دپاره تیاری او دوُد دخبرولوآلهِ
http://www.mfb.vic.gov.au/



AMES Australia